وړومبۍ برخه

# مولانا فضل محمود مخفي

فضل زمان شلمان / ترجمه: شهباز محمد

فضل محمود مخفي صېب يو همه ګير ذهن لرۀ او ډېر د ستائينې کارونه ئې کړي دي، هغه يو عالم، صوفي، شاعر، ليکوال، مصلح، مفکر سياستدان او ماهر تعليم ؤ. د هغۀ په علاقه د پښتنو په راويښولو او د ازادۍ حاصلولو د هر کار په شا به هم د هغۀ فکر او رهنمائي ولاړه وه. په خپلو ملګرو او ماحول د ډېر اثر لرلو باوجود مخفي صېب لکه د يو روايتي صوفي غريب طبيعته سړے ؤ.

د مخفي صېب د داسې شخصيت صحيح لټون د دې خبرې متقاضي دے چې په هغۀ دې يو پوهه عالم پوره تحقيقي مقاله وليکي. دا بيان د هغۀ د ژوند د يو څو اړخونو راښکاره کولو پورې محدود دے.

وړوکوالے: د فضل محمود خاندان د ماموند ترکلاني قبيلې سره تعلق لري کوم چې د باجوړ په ډنډ بابو کړه کلي کښې اوسي[1]. د څۀ خانداني دښمنۍ په سبب د دۀ نيکۀ د دير يو وړوکي شان کلي ماڼوکي[2] ته راغے. يوه لوُر ئې د دغه کلي په قاضي ګل سېد المعروف ملا بابا وادۀ شوه. هم دغه زنانه وه چا چې د دوي لاره بدله کړه. خپل ورونړه ئې د علم حاصلولو د پاره نورو علاقو ته ولېږل. د دې ورور نور محمد په کال 1860 کښې اشنغر ته لاړو چرته چې دۀ د خپل اخلاص او مذهبي پوهې په سبب په بنګالي قاضي شهرت ومونده. دغلته دۀ د يوې عالمې ښځې سره وادۀ وکړو. په کال 1882 کښې د پائنده خېلو محله[3] کښې د دوي کره فضل محمود وزېږېدو.

فضل محمود د دغه ځائے د مقامي سکول نه په کال 1898 کښې اتم پاس کړو او د اسلاميه کالج پېښور نه ئې په کال1900 کښې لسم جومات پاس کړو. له دغې نه وروستو په اېډورډ کالج پېښورکښې داخل شو. دے لا په دولسم جومات کښې ؤ چې خپل ترۀ مولانا شېرمحمد چې د اګرې د دارالعلوم اسلاميه مهتمم ؤ، په کال 1902 کښې هلته وبللو[4]، پوره پنځۀ کاله ئې ديني علم وکړو[5]، خپل ترۀ د نورې زدکړې د پاره ديوبند ته ولېږلو[6].

حساس فضل محمود د ډېر وړوکوالي نه د پښتنو خلاف د پېرنګي حکومت د تشدد نه ډکې پاليسۍ ته ډېر په غور کاتۀ، د ديوبند ماحول د دۀ سياسي پوهه نوره هم تېزه کړه او دغه شان دۀ د شيخ الهند محمود الحسن په قابل اعتماده شاګردانو کښې ځائے بيامونده[7]. د هغۀ په مشوره دے په حزب الله کښې شامل شو[8].

سياسي کارونه: مخفي صېب چرې هم په يو ځائے ايسار شوے نۀ دے ځکه خو دا مشکله ده چې د هغۀ د پوره سياسي هلو ځلو احاطه دې وکړې شي. بيا هم د ازادۍ ځنو لويو مبارزينو د دۀ سره د خپل تعلق ذکر کړے دے او د دغه لويو مبارزينو تاثرات د مخفي صېب په کردار بنه رڼا غورځوي.

د جنګ ازادۍ لوئے مبارز باچا خان، خان عبدالغفار خان دا خبره تسلیموي چې دے د مخفي صیب نه ډېر متاثره ؤ، لیکي :

" ما د وړاندې نه د ترنګزو حاجي صیب او د هغهٔ د ملګرو مخفي صیب، مولوي فضل ربي او مولانا تاج محمد سره رابطه ساتله. د دغه مدرسو قیام زمونږ تعلقات نور پاخهٔ کړي وو. زهٔ به اکثر دوي له (ګدر) ته ورتلم، کله چې به دوي د ترنګزو حاجي صیب له راغلهٔ، زهٔ به ئې ضرور اتمانزو ته رابللم. مولانا تاج محمد د ګدر د دارالعلوم مهتمم ؤ، د هاغه وخته چې هغه د مدرسې ناظم او استاذ ؤ، ډېر وخت به د سکول نه بهر نهٔ پاتې کېدو، خو مخفي صیب او مولوي فضل ربي به اکثر د دهٔ لیدو له راتلهٔ. دغه شان مولوي فضل ربي د دېوبند سره زمونږ تعلقات جوړ کړهٔ"[9].

نوره زیاتوي چې:

" د جمعې په ورځ به ترنګزو ته د لرې لرې نه خلق راغونډېدهٔ، زهٔ په دغه اجتماعاتو کښې د شرکت نه چرې هم نهٔ یم پاتې شوے. مهتمم، مخفي صیب او مولوي فضل ربي به هم کله کله صلاح مشورې له راتلهٔ"[10].

باچا خان د مخفي صیب د سیاسي پوهې او فراست په حقله ښکاره کوي:

"کله چې زما د قام پرستو سره تعلق پېدا شو، نو زما قامي احساس راویښ شو، د مخفي صیب، مولانا عبدالعزیز او مهتمم د ملګرتیا په وجه د طالبعلمۍ په دوران کښې زما احساساتو ترقي وکړه. بهر حال مخفي صیب ډېر اثرناک ؤ"[11].

دغه رنګ دے نوره زیاتوي:

"کله چې هم مخفي صیب نوے او ښهٔ کتاب موندلے، ما له ئې د لوستو دپاره راوړے دے. یوه ورځ ئې د عبدالحلیم شرر ناول "زہد اور حلوه" راوړو او وې ئې چې دا به خامخا لولې.دغه کتاب زما په سیاسي ژوند جوړولو کښې ډېر ښهٔ ثابت شو. ما او مخفي صیب به ورځپاڼه «الهلال» یو ځائے لوستو. د هغې په مضامینو به مو بحث کوو او دا به مو کوشش ؤ چې نورو ته ئې هم واوروو، بېشکه دغه اخبار مونږ د اسلام د صحیح روح نه خبر کړو او نېغې لارې پله ئې زمونږ رهنمائي وکړه. دا هاغه وخت ؤ چې چا د پېرنګي د حکومت خلاف په خپلو حجرو کښې هم خُلهٔ قدر له نهٔ شوه وازولې"[12].

ډې جي ټنډولکر د مخفي صیب سره د باچا خان د تعلقاتو په باره کښې داسې لیکي:

"د ترنګزو حاجي صیب په سرپرستۍ کښې عبدالغفار خان او د هغهٔ ملګرو د دارالعلوم بنیاد کېښود. دکوم نګراني چې مولوي تاج محمد کوله، مولوي فضل ربي او مولوي فضل محمود مخفي ئې ملګري شو. چې مقصد ئې تعلیم عام کول او په کلیو کښې سکولونه خلاصول وو. د دهٔ ملګرو فضل ربي صیب او مخفي صیب په مشهوره اسلامي اداره دېوبند کښې تعلیم حاصل کړے ؤ، چرته چې د مولانا محمودالحسن غوندې متقي او متبحر عالم سربراه ؤ."[13].

د عمرزو لوئے خان او د خدائي خدمتګار په مشرانو کښې شمار خدائے بخښلے عبدالاکبر خان اکبر مخفي صیب خپل استاذ ګڼي او لیکي :

"هغه په هاغه کسانو کښې اول نمبر سړے دے چا چې د قام پرستۍ د روح رابېدارولو دپاره کار کړے ؤ[14].

دے د مخفي صېب نقشه داسې راکاږي:
"شلېدلې جامې او شلېدلے پېزار او اکثر به نهر ؤ خو چرې ئې هم حوصله بائللې نۀ وه"، تر دې چې د جاهلو مذهبي خلقو او د هاغه پيرانو په مخکښې کوم چې همېشه عوام غولوي، دے د مضبوطې ارادې خاوند ؤ، دے د هاغه ممبرانو نه نۀ ؤ چې د موټرو او جلسو جلوسونو مزې خو اخلي، خو چې کله ممبري او وزارت بائلي نو بيا ترې قام او اسلام دواړه هېر وي[15].

د محمد شاه خيال کاکاخېل په خيال مولانا تاج محمد او مولوي فضل محمود مخفي د پښتون د ژوندي ساتلو او ويښولو دپاره يو بيل تحريک شروع کړے ؤ. بېشکه چې دا يو مذهبي تحريک ؤ خو د دې مقصد د خلقو ويښول او پوهول وو، د دغه تحريک مرکز ګدر ؤ، په حقيقت کښې دا يو سياسي تحريک ؤ، پېرنګي حکمرانانو د دې مخالفت کوو[16].

د دې پاسنيو حوالو نه صفا برېښي چې مخفي صېب د قوميت او سياست اولنے استاذ ؤ، هغۀ د هندوستان سره سياسي روابط پېدا کړۀ او په باقاعدګۍ سره به ئې اخبار، ناولونه او رسالې هم راغوښتې، هاغه وخت چې چا په خپلو حجرو کښې هم د پېرنګي خلاف خبره نۀ شوه کولې، مخفي صېب په پښتنو کښې د ازادۍ جذبه را ولړزوله، دۀ په ډېرو کړکېچنو حالاتو کښې خپل سياسي مقصد لکه د عبادت سر ته رسولو.(16).

پېرنګي سامراج هغه د روس اېجنټ ګڼلو، د پېرنګي د دې يادداشت نه د دې خبرې پته لګي:
" ملا مخفي بالشويک اېجنټ دے"[17]

دغه وخت په يو سياسي ليډر دا ډېر سخت تور ؤ، په نورو کاغذونو کښې فضل محمود ته د مولانا محمودالحسن مريد وئيلے شوي وو، هغه د مخکښې نه د سېف الرحمان او فضل ربي سره د پېرنګي حکومت خلاف د قبائلو راپاڅولو وعده کړې وه. په کال 1915 کښې په لويه پېمانه په قبائلو کښې د اړې ګړې هغه ذمه وار ؤ. دے په جنود ربانيه (يعنې خدائي لښکرو) کښې د کرنېل عهده لرله.[18].

د ترکي او متحده فوځونو د جنګ په دوران کښې، د خليج فارس نه د پښتون زمکې ته د وسلې راتللو پېرنګي حکومت پرېشانه کړے ؤ، په مسقط کښې ئې يو چيک پوسټ جوړ کړو خو د يو داسې کس ضرورت ئې محسوسوو چې هغۀ له انګريزي، پښتو، فارسي او عربي ژبې ورځي.[19]. مخفي صېب له د دغه ژبو نه علاوه اردو، جرمني، بنګالي او ازبکي ژبې هم ډېرې ښې ورتلې[20]. هم دغه رنګ دے ترجمان ولګولے شو. د دې نوکرۍ دۀ ته دا فائده ورسوله چې پېرنګي ئې د ډېر نزدې نه وليدو.[21] په کال 1914 کښې ئې دغه نوکري پرېښوده[22] هغۀ د ديوبند په هاغه اجلاس کښې ګډون وکړو، چې شيخ الهند محمودالحسن ئې صدارت کولو، په دغه اجلاس کښې څو اهمې فېصلې شوې وې، مخفي صېب او باچا خان د دې دپاره ټاکلي شوي وو چې په قبائلي علاقه کومه چې ډېره موزونه وه، کښې

هندوستاني مجاهدينو له د پېرنګي حکومت خلاف د جنګ فوځي تربيت ورکړي. باچا خان په دغه اجلاس کښې دا خبر ورکړے ؤ چې ګورې دے د بونېر د هندي مجاهدينو نه مطمئن نۀ دے. د دغه نه وروستو دے (باچا خان) او مخفي صېب باجوړ ته لاړۀ او هلته ئې يو ځائے چمرکنډ خوښ کړو[23]. خو د اولني لوئے لام په شروع کېدو او د سعودي حکومت د شېخ الهند د ګرفتارۍ په سبب دغه منصوبه صحيح ونۀ چلېده. شېخ الهند او د هغۀ ملګري حج له تللي وو چې ونيولے شو او پېرنګيانو ته حواله شو[24]. دغه تړولي د ((اسير مالټا)) خطاب وګټلو. حج له د روانېدو نه مخکښې شېخ الهند مولانا سېف الرحمان د ترنګزو حاجي صېب ته ولېږلو او مشوره ئې ورکړه چې قبائلي علاقې ته لاړ شي[25].

د جنورۍ په پنځلسمه 1915 کښې حاجي صېب، مخفي صېب او څۀ نور مشران بونېر ته لاړۀ چې د پېرنګي خلاف قبائل راوپاروي[26]. د حکومتي رپورټ مطابق په رستم کښې يوه نښته وشوه چې پکښې ځينې هندوستاني بنياد پرست ووژلي شو[27]. په سُرکاوۍ کښې يوه بله نښته هم وشوه، په دې کښې مخفي صېب هم حصه اخستې وه[28]. د دغه غازيانو دپاره شېخ الهند د مولانا عُزېرګل په لاس څۀ پېسې او پېغام رالېږلي وو[29]. څو ورځې وروستو د ترنګزو حاجي صېب مخفي صېب او نور مشران د بونېر نه لکړۍ مومندو ايجنسۍ ته لاړۀ[30].

په کال 1915 کښې د حاجي صېب او مولوي مخفي په اثر د مومندو قبيلې يو لښکر په شبقدر چپاؤ وکړو، يوه بله نښته د چکدرې په مقام وشوه او دغه رنګ په يوه بله نښته کښې يو زر قبائل مړۀ يا زخميان شو[31]. حکومتي رپورټونه دا سې ښيي چې د ترنګزو حاجي صېب او سنډاکے مُلا د شېخ الهند د تحريک سره ضرور تړلي خلق دي. مولانا سېف الرحمان، مولانا فضل ربي، مولانا محمد ميا المعروف منصور انصاري او مخفي صېب د شېخ الهند نزدې مرستيال وو.[32]

په حاجي صېب د بغاوت د مقدمې په دوران کښې سرکاري وکيل دا شهادتونه مخکښې کړي وو چې مخفي صېب، مولانا عبدالعزيز، مولانا سېف الرحمان او مولانا فضل ربي هم د هجرت په سازش کښې حصه اخستې وه. د کپتان ګرفتهـ په عدالت کښې دا بيان په اولسم ستمبر کال **1915** کښې محفوظ شوے ؤ[33]. د ترنګزو حاجي صېب، د پرېس، تشهير، د وسلې د جوړولو او د غزا د مؤثر کولو دپاره او په لکړۍ مومندو ايجنسۍ کښې د مدرسې جوړولو په غرض کمېټيانې جوړې کړې وې[34]. د دغې مشرې مخفي صېب ته حواله وه. حاجي صېب په دېرشم جون **1916** يو نمائنده جماعت کابل ته د سردار نصرالله خان خوا له ولېږلو چې د پېرنګي خلاف ورسره لښکر وکړي او د هغۀ ورور امير حبيب الله خان ئې په دې راضي کړو چې جنګ شروع کړي[34].

اګر چې سردار نصرالله خان د دوي سره همدردي لرله او د تحريک دپاره ئې څۀ نغدې پېسې او وسله هم ورکړې وه[35] خو امير په خپله د پېرنګي طرفدار ؤ[36]. د سرکاري ريکارډ مطابق دغه جرګه کابل ته تللې وه او د عبيدالله سندهي سره ايساره شوې وه[37].

مخفي صېب وروستو په کابل کښې پاتې شو او په جديدي ګوند کښې شامل شو. د جولا يی په مياشت کال 1916 کښې دۀ ترنګزو حاجي صېب له د سردار نصرالله خان يو پېغام راوړو[38]. مخفي صېب د امير حبيب الله خان په قتل، کوم چې په نولسمه شلمه فروری کال 1919 کښې شوے ؤ، شريک ؤ، دۀ امان الله خان سره د امارت رسېدو په سلسله کښې لاس امداد کړے ؤ[39].

هاغه هندوستاني انقلابيان چې دغه وخت په کابل کښې اوسېدۀ، زياتره کسان ترې امان الله خان د ځان سره په خپل مشاورتي کونسل کښې اخستي وو، په دوي کښې يو مخفي صېب ؤ[40].

امير د يو مصلح او لوئے سياسي رهنما او د هندوستاني ازادي خوښو سره د همدردئ په جوړ په هندوستان کښې ښۀ مشهور ؤ[41]. مخفي صېب په کال 1920 کښې د کابل نه اشنغر ته د باجوړ په لار راغے او د باچا خان سره ئې د پښتنو په سياسي او تعليمي حالت بحث وکړو ځکه خو دا خيال کېږي چې په کال 1921 کښې د انجمن اصلاح افاغنه جوړېدل هم د دغې نتيجه وه. د دغه انجمن لوئے مقصد د پېرنګي په خلاف پښتانۀ رابېدارول وو او د دې سره سره د غلطو رواجونو او رواياتو خاتمه وه. دغه انجمن باچا خان او د هغۀ ملګرو ته د خلقو سره د يو مؤثر تعلق پېدا کولو موقع په لاس ورکړه. پېرنګي حکومت د دوي سکولونه بند کړۀ او استاذان او ناظمان ئې بندي کړۀ.[42]. (جاري دے)

## حوالې او ځينې شرحې:

1. د صديق الله رښتين په خيال مخفي صېب يو سفزے ؤ. (مياشتيزه کابل نمبر 6، اسد 15 - 1326 ش) ماسټر کريم ئې مومند مني – (لار- مياشتنۍ –پېښور مارچ 1957) او همېش خليل ئې ماموند ګڼي- (پښتانۀ ليکوال-دوېم چاپ 1961 ص 22)

2. سېف الرحمان سليم، پښتو مياشتنۍ، "غازي مولوي فضل محمود مخفي" پېښور- پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي- مۍ- جون 1981 ص 92.

3. د همېش خليل مطابق – سېف الرحمان سليم، محمد ولي ځلمے، اشرف غمګين او د شهريار قتاش خېل د اشنغر ګلونه- ص8، مخفي صېب په کال 1884 کښې زېږېدلے ؤ.

4. ماسټر کريم وائي چې مخفي صېب لسم جومات په پرائېوټ توګه پاس کړے ؤ خو همېش خليل، سېف الرحمان سليم او عبدالاکبر خان اکبر وائي چې دۀ دا د باقاعده طالبعلم په حېث پاس کړے ؤ، همېش خليل او محمد ولي ځلمے زياتوي چې مخفي صېب اتم جومات په کال 1910 کښې پاس کړے ؤ او سېف الرحمان سليم دا دعوي لري چې دۀ لسم جومات په 1910 کښې پاس کړے ؤ، دغه رنګ سېف الرحمان سليم مني چې دے کله د اېډورډز کالج پېښور طالب علم ؤ نو هغه وخت ئې سبق په دولسم جومات کښې پرېښے ؤ خو اشرف غمګين وائي چې دۀ د اسلاميه کالج پېښور نه دولسم پاس کړے ؤ.

5. د مخفي صېب ورارۀ او زوم فاتح الرحمان سره په مانوګي دير کښې انټرويو.

6. مولانا سېد محمد ميا- تحريک شېخ الهند (لاهور، نګارشات ميا چيمبر 3 ټمپل روډ 1991) ص 196.

7. ايضا ص 36.

8. محمد ولي ځلمے، زمونږ غازيان (کابل) اسد 28- 1368 هـ ش ص 363.

9. عبدالغفار- زما ژوند او جدوجهد (کابل- سرکاري چاپ ځائے افغانستان) ص 70.

10. ايضاً ص 88.

11. ايضاُ ص 73.

12. ايضاً ص 76.

13. ډي - جي ټنډولکر – عبدالغفار خان فېتهـ از بېټل (بمبۍ پاپولر پراکشن فار ګاندهي پيس فاؤنډېشن 1967) ص 22.

14. ايضاُ ص 24.

15. عبدالاکبر خان اکبر- د روس ترکستان او افغانستان سفرنامه (پېښور- اکبر بک سټال، ارباب روډ پېښور کېنټ) ص 10 ،51.

16. کابل مياشتنۍ (کابل جوزا 1357 هـ ش) ص 32.

17. Who's Who in Dir, Swate Chitral Agency (New Delhi. Gost press> 1937) P#15.

18. مولانا سېد محمد ميا، ريشمي خطوط کښې کيسزين کون کيا هے؟ ص 36.

19. عبدالغفار – ص 64-65.

20. پښتو مياشتنۍ مۍ جون 1981 ص 93.

21. عبدالغفار- ص 25.

22. ایضاً
23. ایضاً
24. ټنډولکر ص 25.
25. مولانا عبدالله لغاري، مولانا عبيدالله سندهي، سرگذشت کابل (لاهور دارالکتاب عزيز مارکيټ اردو بازار 1998) ص 98.
26. سيد محمد ميا – ص202-246.
27. ایضاً ص 170.
28. عبدالاکبر خان اکبر- ص 17.
29. سيد محمد ميا- ص 212.
30. عبدالاکبر خان اکبر- ص 18.
31. D.C Obhari- The Evolution of N.W.Frontire Province (Peshawar, Saeed Book Bank Arbab Road Pesh, Cantt.) 1983, p# 79-80.
32. سيد محمد ميا- ص 170.
33. استغاثه ريشمي رومال تحريک ص 31-55.
34. سيد محمد ميا- ص 246.
35. ایضاً- ص 246.
36. Obhrai of –cit p# 76
37. ایضاً –ص 217.
38. سيد محمد ميا- ص 36-217.
39. عبدالاکبر خان اکبر- ص 9-10.
40. ایضاً ص 35-36.
41. Obharai- p 76.
42. عبدالغفار –ص 114.